AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۲۴/۰۴/۱۰

# اخـــتر

شــي دي اختر د عاشقانو اختر
د ښکلو پېغلو د ځوانانو اختر

مونږ ډېرد وينو اخترونه تيرکړل
شي دا اختر دي د ګلانو اختر

د ګل غوټي دې ږلی ونه وهي
نه دی شي جوړ د ژړاګانو اختر
+++

په چنارو کی د ټالونو اختر
د خوشاليو او اتنونو اختر

غواړو اختر د وروروليٰ اختر
نه د نفرت او د جنګونو اختر

د دښمنيو دي دښمن جوړ شی
شي دي د خدایٔ د رحمتونو اختر
+++

اختر د غم د ختميدو زيری دی
اختر د درد د رغيدو زيری دی

اختر خوښي ده د خوارانو خوښي
اختر د ژوند د پيژندو زيری دی

اخترکی کرکه له هر زړه را وځی
اختر د مينی د خوږو زيری دی
+++


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

خدایه! اختر مو په ریښتیا اختر کړی
خدایه! اختر مو د خندا اختر کړی

خدایه! له غم او درد انسان وساتی
دا اختر خدایه! د دنیا اختر کړی

د فلسطین، اوکراین، افغان بچو ته
اختـر د سـولې د صـفا اختر کړی.

اپریل/۶/۲۰۲۳ ( د روژی ۲۷)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ